مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی

۲۰۲۶ / ۰۵ / ۳۱

# اسماعیلي فرقه او د آغا خان د کورنۍ تاریخي میراث

اسماعیلي فرقه د اهل تشیع له سترو څانګو څخه ده او د امامت لړۍ يې د امام جعفر صادق له دوهم زوئ، اسماعیل سره غوټه کېږي. د اسلام له لومړنیو پېړیو څخه تر نن پورې، د دې ډلې تاریخ اوږد، پیچلي او څو پړاویزه پرمختګ لري. د معاصر اسماعیلي مشرتابه امام ته د «آغا خان» لقب کارول کېږي. اسماعیلي عقیده د شیعه اسلام یوه مهمه برخه ده، خو ځینې ځانګړتیاوې لري؛ امام يې د روحاني لارښود په توګه ګڼل کېږي، اطاعت يې واجب ګڼي او د قرآنکریم باطني تفسیر او معنا د امام دنده بولي.

امام جعفر الصادق چې د جعفري فقهي بنسټګر ګڼل کېږي، د امام ابوحنیفه همزولی او ملګری وو. د عباسي خلیفه ابوجعفر المنصور د واکمنۍ په مهال، نومړی په ۱۴۸ هجري (۷۶۵م کال) په مدینې منورې کې وفات او په جنت البقیع کې خاورو ته وسپارل شو. هغه د حسین (رض) کړوسی او د اثنا عشري فرقې شپږم امام دی؛ دوه زامن يې درلودل یو موسی او بل يې اسماعیل وو. له مرګ وروسته يې شیعه ګان دوه ډلې شول؛ لومړنۍ ډله چې اکثریت وو، له موسی کاظم سره يې د اووم امام په توګه بیعت وکړ، خو بلې ډلې د هغه دوهم ځوئ، اسماعیل خپل امام اعلان کړ او له همدې وجې ورته اسماعیلیان ویل کېږي.

په لسمې میلادي پېړۍ کې، اسماعیلیانو په قاهرې کې د فاطمي دولت په نوم یو لوی سیاسي او مذهبي دولت جوړ کړ او ۲۶۲ کاله يې د شمالي افریقا په پراخو سیمو اوسپنیزه واکمني وکړه. په بغداد کې يې د عباسي خلافت سره ژوره دښمني درلوده او ځینې مؤرخین په اسماعیلیانو باندې د صلیبي جنګونو په مهال د فرانسوي ځواکونو د ملاتړ تور لګوي. دوئ د الازهر د نړېوال پوهنتون بنسټ کېښود، پوستي سیستم يې فعاله کړ او د قاهرې ښار يې د علم او تجارت په مرکز بدل کړ. صلاح الدین الایوبي په ۱۱۷۱م کال کې فاطمي دولت ړنګ کړ او په بغداد کې يې له عباسي خلافت سره بیعت وکړ. د فاطمي دولت له زوال وروسته، اسماعیلیان په څو څانګو وویشل شول چې یوه څانګه يې نزاري اسماعیلیان وو؛ د آغا خان د امامانو تسلسل د نزار بن المستنصر بالله الفاطمي له نسله دی.

په نولسمې پېړۍ کې د نزاري اسماعیلیانو شپږ څلویښتم امام، حسن علي شاه د ایران له قاجاري دربار سره تودې اړیکې درلودلې، د کرمان والي او د آغا خان افتخاري منصب ورکړل شوې وو. خو وروسته يې له ناصرالدین شاه قاجار سره سیاسي اختلاف ډېر ژور شو. له دندې ګوښه او اړ شو چې لومړی افغانستان او بیا د برتانوي هند د بمبي ښار ته کډه شي. هلته د پېرنګیانو له خوا د آغا خان د لقب ترڅنګ، د Prince / شهزاده په نوم ونازول شو ترڅو د معاصر اسماعیلي امامت بڼه يې رسمي او د اروپایانو لپاره يې لېکل او معنا اسانه شي.

د سنیانو برخلاف، په شیعه مذهب کې امامت د الله له لوري ټاکل شوی او روحاني او دیني مقام دی. د دوئ په باور امام یوازې سیاسي مشر نه، بلکې د دین حقیقي تشریح کوونکی منل کېږي. له اثنی عشري فرقې سره د اسماعیلیانو ستر توپیر دا دی چې دوئ ژوندی امام مني او هغوئ په غایب «مهدي» باندې عقیده لري. دواړه ډلې ګڼي چې امامان يې معصوم او له هر ډول ګناه څخه پاک دي، خو د اهل سنت له نظره له پیغمبرانو پرته، د صحابه وو، تابعینو او اولیاوو په ګډون، هېڅ انسان سوتره نه دی، بلکې خطا او غلطۍ ورسره مل ده.

د آغا خان د کورنۍ اوسنی امام رحیم الحسیني نومیږي چې د خپل پلار، کریم آغا خان له مړینې وروسته د ۲۰۲۵م کال په فبرورۍ کې د دې فرقې پنځوسم امام شو. د نړیوالو مالي راپورونو او اقتصادي اټکلونو له مخې؛ د آغا خان د کورنۍ ثروت میلیاردونو ډالرو ته رسي او د امامت او ټولنیز اغېز چترۍ يې د نړۍ د ډېرو هېوادونو په سر ولاړه ده. اسماعیلیان د پاکستان، هند، تاجکستان، افغانستان، تنزانیا، کینیا، فرانسې، کاناډا او امریکا په متحدو ایالتونو کې پراخه حضور لري او امام ته يې د یو پاچا او ټولواک په توګه پروټوکول ورکول کېږي. د دې فرقې نفوذ درې برخې لري: مذهب چې د امام اطاعت يې د عقیدې برخه ده او دیني مرکزیت يې د امام په لاس کې دی. دوهمه يې د آغا خان پراختیايي اقتصادي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

شبکه او دریمه یې تعلیمي او روغتیایی ځانګې دي. په نړۍ کې د سرینا مشهور او مجلل هوټلونه چې شمېر یې ۳۵ ته رسیږي، د مالکیت او اداري ډېره برخه یې د آغا خان د مالي صندوق په غاړه ده.
اسماعیلي شیعه فرقه د مسلمانانو د نفوس په تله کې کوچنۍ، خو ډېره منظمه، تعلیم یافته او اغېزمنه ډله ده. کره سرشمېرنه نشته، خو د نړیوالو اټکلونو له مخې، له ۱۲ څخه تر ۱۵ میلیونه اسماعیلیان په نړۍ کې تیت پرک اوسېږي چې د مسلمانانو د ټول نفوس (دوه میلیارده) له یوې سلنې څخه هم کم دي. اسماعیلي فرقه د اسلامي تاریخ یوه لرغونې، فکري او سیاسي مهمه څانګه ده چې له فاطمي خلافت څخه تر معاصر آغا خان پورې دوام لري. د یو غښتلي میراث په توګه، د آغا خان کورنۍ د دې فرقې د امامت معاصر تسلسل دی چې نه یوازې مذهبي، بلکې نړیوال پرمختیایي رول لري او په نړېوالو شخړو کې ترډېره ځایه سوله ایز دریځ لري.

---

پاملرنه: که لوستونکي وخت او علاقه لري، کولای شي د ملکزي نورې لیکنې او څېړنې د هغه په فیسبوک او یوټیوب چینل کې ولولي او وګوري. ادرس یې دا دی: Wali Malakzay


[د لیکوال نورې لیکنې په دې لینک کې ولولئ]()


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ